# د افغانستان د څېړنې خبر پاڼه

۲۱مه ګڼه ۱۳۸۸کال د وري/غويي مياشتې


۲ د افغانستان د معلوماتو د انسجام اداره: په افغانستان کې د معلوماتو د کچې لوړول

۵ څېړنيز خبرونه

۷ د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې نوې خپرونې

۹ د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې نوې څېړنې

۱۴ نوې خپرونې او سرچينې

۱۴ ښځې او د بشر حقونه

۱۲ ادبيات او ژورناليزم

۱۷ تاريخ او سياست

۲۰ اسلامي څېړنې



د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د څېړنې له لارې د افغانانو د ژوند ښه کول


AREU

# د افغانستان د معلوماتو د انسجام اداره: په افغانستان کی د معلوماتو د کچې لوړول

ایمیلي وینتربوتم ، د اړیکو او مدافعې د څانګې اډیټوره ، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره (AREU)

په افغانستان کې د حکومت د ظرفیت دکچې لوړول د هیواد د راتلونکي ثبات لپاره په پراخه توګه ډیره ارزښتناکه ثابته شوې ده. د افغانستان د معلوماتو د انسجام اداره ( AIMS ) د نړیوالې ټولنې په منځ کې د نخشو د خدمتونو له امله یوه ډیره ښه پیژندل شوې اداره ده.

د کابل مرکزي دفتر ته دیو وروستي سفر په ترڅ کې دا څرګنده شوه چې ددې ادارې د پاملرنې یواځې یوه برخه دافغانستان په حکومت کې د معلوماتو د کچې لوړول دي. په تیری خبر پاڼی (۱۳ مه ګڼه د ۱۳۸۲ کال د وري میاشت) کې د افغانستان د معلوماتو د انسجام د ادارې د موضوعي نخشې د وړتیا په هکله د یوې مقالې پر بنسټ، دغه لنډه مقاله چې د نوموړې ادارې فعالیتونو ته یوه هراړخیزه کتنه کوي.

دغې ادارې په ۱۳۷۶ کال کې د معلوماتي سیستم د ادارې د پروژې ( ProMIS) د جوړښت سره سم د خوړو او کرهنې د دارې (FAO) د مستقیمې څارنې لاندې په پاکستان کې په کار پیل وکړ.

د معلوماتي سیستم د ادارې د پروژې د معلوماتو مرکز په اسلام آباد کی د افغانستان په هکله د معلوماتو د تولید او ویشنې دنده لري تر څو له دې لارې د ملګرو ملتونو د ادارو، نا دولتي ادارو او مرستندویه ټولنو ظرفیت د افغانستان بیاجوړونې د هڅو او پراختیایي فعالیتونو په برخه کې لوړ کړي.

د سپتمبر له یوولسمې نیټې (دوړې د میاشتې ۲۰) او د طالبانو د حکومت له راپرځیدو وروسته ، دغې پروژې د مرسته ورکونکو ادارو له خوا د افغانستان د معلوماتو د انسجام ادارې(AIMS ) ته واړول شو: د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام ، د خوړو او کرهنې سازمان (FAO) او د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ



ښاغلی غلام جیلانی د افغانستان د معلوماتو د انسجام د ادرای څخه

دفتر (UNOCHA) .

ددې کار اصلي موخه بشری ټولنو ته د اساسي نخشو او معلوماتو د ادارې د خدمتونو برابرول وو.

دغې ادارې په افغانستان کې د ۱۳۸۱ کال د چنګاښ په میاشت کی د کابل د صدارت په انګړ کې په کار پیل وکړ او سیمه ایز دفترونه یې په هرات، جلال آباد ، کندز، مزار شریف، او قندهار کې پرانیستل شول، او حکومت او بشري ټولنې ته یې د بیلابیلو جغرافیایي معلوماتي سیستمونو، داتا بیز او د معلوماتو د تنظیم خدمتونو د برابرولو کار ته ادامه ورکړه.

له هغې راهیسې یې له ګڼ شمیر وزارتونو او نړیوالو ټولنو سره په همکاری پیل وکړ: لکه، په کټمنډو کې میشت د غرونو د پراختیا د نړیوال مرکز ( ICIMOD) ، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام ، د امریکې دمتحدو ایالتونو پراختیایي اداره (USAID) ، ایشیا فونډیشن، د ملګرو ملتونو د وګړو وجهي صندوق (UNFPA)، اروپایي کمیسیون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه هیأت(UNAMA) او ډیرنور. د ۱۳۸۷ کال د لړم په میاشت کې دغه اداره په یوه خپلواکه غیر دولتي ادارې بدله شوه.

د ۱۳۸۳ کال د بشري معلوماتو مرکزونو یوې ارزونې دا وموندل چې په اصل کې د نړیوالو ټولنو ډیر غړې د افغانستان د معلوماتو

د انسجام د اداري د جغرافيايي نخشو موقعيت ټاکنو سره مينه وال وو. په هر حال، د افغانستان د معلوماتو د انسجام د اداري ليد په"لومړي سر کې د افغانستان په حکومت کې د معلوماتو د اداري د ظرفيت لوړول دي، او په دوهم سر کې حکومت او ګڼ شمير بشري ټولنو ته د معلوماتو د اداري د خدمتونو برابرول دي."

د دغه پراخ نظر د تر سره کولواو دولت او ګڼ شمير ټولنو ته د مهمو معلوماتو د انتقالولو د اداري د خدمتونو په موخه دغه اداره راز راز پراخې پروژې د نورو معلوماتي خدمتونو له ادارو سره په همکارى کې په لاره اچولې دي. د نيک مارتين نوې اجرايوى ريس د ويناوو پر بنسټ:

افغانستان په نړيواله کچه د يادولو وړ د اړيکو او معلوماتي تکنالوجۍ (ICT) د استعدادونو خاوند دى. مونږ باور لرو چې د افغانستان د معلوماتو د انسجام اداري ته د پراختيا له لارې به افغانان نه يواځې خپل دولت ته بلکه همدارنګه نورو مخ په ودې دولتونو ته د ارزښتناکه معلوماتو او اطلاعاتو د اداری دخدمتونو د برابرولو جوګه شي.

دنړى په کچه د اړيکو او معلوماتي تکنالوجۍ (ICT) ماهرين او هغه سيستمونه چې دوى يې طرح کوي، کېداى شي چې د افغانستان لپاره په ډېر نږدې راتلونکې کې د عايداتو په يوې مهمى سرچينې بدل شي. د افغانستان د معلوماتو د انسجام په اداره کې زمونږ مقصد ددې موخې د ترلاسه کېدو يقيني کول دي.

د نوموړې اداري د روانو فعاليتونو دا لاندينۍ عمومي کتنه څېړونکو ،مرستندويه کارکونکو او نوروته چې د افغانستان په باب په کار بوخت دي د يوې سرچينې په توګه راغونډه شوې ده.

## د دولت خدمتونه

د افغانستان د معلوماتو د انسجام د اداري مهم تمرکز ددولت د خدمتونو پر بنسټ ولاړ دى. ددې موخه دولت ته د معلوماتو د اداري په اړه د اساسي سلامشورو د ورکولو او د نوې ټکنالوجۍ څخه په استفادې د هڅولو له لارې د پرمختيايي پروسې چټکتيا ده.

د افغانستان د معلوماتو د انسجام اداره په دې وروستيو کې د افغانستان دحکومت د ۲۵ وزارتونو او ډيپارتمنتونو له ډلې نه د ۲۳ سره د ولسمشر د دفتر په شمول، د مشورتي خدمتونو، روزنيزو پروګرامونو او ورکشاپونو د برابرولو په برخه کې مرسته کوي.

د افغانستان د معلوماتو د انسجام اداري دولتي لوړ پوړو چارواکو ته د جغرافيايي معلوماتي سيستمونو، جغرافيايي موقعيتونو د سيستمونو او داتابيزونو په هکله د ټکنالوجۍ د زده کړې ورکشاپونه په لاره اچوي. دغې اداري تر اوسه ۲۰ د ټکنالوجۍ د پوهاوي ورکشاپونه لوړ پوړو او تخنيکي دولتي چارواکو ته په لاره اچولې دي. او په پام کې لري چې دا کار ولايتونو ته هم وغځوي.

دغې اداري د سلواغې په مياشت کې د طبيعي چاپيريال ساتنې د اداري (NEPA ) کارکونکو ته يو ورکشاپ په لاره واچولو.

## معلوماتي خدمتونه او جغرافيايي معلوماتي سيستمونه

د افغانستان د معلوماتو د انسجام اداره هڅه کوي چې د معلوماتي ټکنالوجۍ او جغرافيايي معلوماتي سيستمونو په ډګر کې د ملي ظرفيت د لوړولو په برخه کې لارښوونکى اوسي. مرکزى دفتر کولاى شي چې د افغانستان له لارې د دولت او خصوصي ادارو د هغو کارکونکوچې روزنيز پروګرامونه يې بشپړ کړې وي ليست او د هغوى په هکله پوره معلومات برابر کړي، لکه د دغې اداري د ډاتا بيز اسيستانت تصديق درلودونکى ترينينګ (ADCA).

دغې اداري يو شمېر معلوماتي سيستمونه چې د معلوماتو د خپرېدو د سرعت د زياتېدو په موخه طرح شوي دي، ځاى په ځاى کړي دي. د ښوونې او روزنې وزارت ته يې يو داسې سيستم جوړ کړى چې د هغې له لارى د دولسم ټولګي فارغانو ته له دوو

نه تر دريو مياشتو د ځنډ پرته به د بري ليک پاڼې برابرکړي. په دې وروستيو کې د ۵۰۰۰۰ نه تر ۲۰۰۰۰ زده کوونکي په کمپيوټري شمېرو ثبت شوي دي چې د ډېر نږدې نه د افغانستان د ښوونې او روزنې څارنې ته زمينه برابروي.

## سيمه ايزه شبکه

د افغانستان د معلوماتو د انسجام اداره په هرات ، قندهار ، مزار ، کندز او جلال آباد په ښارونو کې د پنځو سيمه ايزو دفترونو شبکه لري چې د هيواد لويديځې، ختيځې، شمالي، سويلي او شمال ختيځې سيمې تر پوښښ لاندې نيسي. نوموړې شبکه د ۱۳۸۲ کال راهيسې ددولت د ظرفيت د کچې د لوړولو او بيلابيلو اړوندو وزارتونو لکه د افغانستان د جيودوزۍ او کارتو ګرافۍ لوی دفتر ( AGCHO ) ، د مرکزی احصاييې دفتر (CSO)، د ښاري پراختيا وزارت (MUD) او ښاروالی سره په کار پيل کړې دی.

## نخشې

په دوامداره توګه د موضوعی نخشو برابرول ددغې ادارې مهم توليدات جوړوي. د ۱۳۸۰ او ۱۳۸۷ کلنو ترمنځ د ۲۲۰۰۰ څخه ډېرې نخشې يې ويشلې دي. په افغانستان کې د توپو ګرافيکي نخشو خپرول لا تر اوسه يوه پارونکې موضوع ده چې له خپربدو وړاندې بايد د افغان جيودوزۍ او کارتوګرافۍ له لوی دفتر سره سلا وشي(AGCHO).وروستۍ ملي ټوپوګرافيکي نخشې د ۱۳۴۹ کلونو روسي نخشې دي. دغې ادارې کومه سروی نه ده ترسره کړې او لومړني معلومات يې نه دي راغونډ کړي او د هغې پر ځای د امريکې د متحدو ايالتونو ددفاعي نخشو د ادارې پر نخشو تکيه لري. اوس د امريکې د متحدو ايالتونو د ملی جيوسپشيال استخباراتي




د افغانستان د اداری ويش نخشه د افغانستان د معلوماتو د انسجام د ادارې له خوا (۱۳۸۲)

ادارې يوه برخه (NGA) ، د خوړو او کرهنې د ادارې ( FAO ) د۱۳۷۱ کال د ځمکې د پوښښ لړۍ او معلومات د انفرادی ادارو له خوا برابر شوې دي.

د ۱۳۸۱ کال را هيسی دغه اداره د افغانستان د موضوعي نخشو يوه لړۍ لکه ولايتي نخشې، د ولسواليو نخشې، د ولسواليو د زيانمنې نخشې، فزيکي نخشې، سيمه ايزې نخشې، د ځمکې د پوښښ نخشې، روغتيايي نخشې، د لارو د بيا جوړولو نخشې، د سيندونو نخشې، ښاري نخشې، او هغه نخشې چې د وزارتونو د ملګرو ملتونو د دفترونو او دسفارتونو د موقعيتونو ښکارندويې دي چاپې او پلورلې دي.

دغه اداره همدا رنګه د ځانګړو موخو لپاره فرهنګی نخشې جوړوي. يوه مهمه برخه د ولسواليو د زيانمنې د نخشو جوړول دي. انتقالي ادارې او ملګرو ملتونو د افغانستان د مرستو د موخو په هکله خپل ژور خپګان څرګند کړی دی.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه هيأت (UNAMA) پريکړه وکړه ترڅو په افغانستان کې تر ټولو زياتې زيانمنونکې ولسوالۍ وپيژني، او د افغانستان د معلوماتو د انسجام له ادارې څخه يې وغوښتل ترڅو د دغې کړنلارې په پلی کيدو کې مرسته وکړي: د لومړنيو معلوماتو راغونډول او د لازيات تحليل، تجزيې او پلان جوړولو لپاره د يو بنسټ په توګه د نخشو چمتو کول.

ددغې ادارې هغه نخشې چې د سپوږمۍ څخه اخيستل شوې دي، کبدای شي چې د چاپيريالي بدلون د ښودلو په موخه وکارول شي او په دې توګه د پاليسۍ او عملي پلانونو په

تسویدولو کې یو ارزښتمن رول ولوبوي، لکه د ځنګلونو ویجاړیدل او د ځمکې د له مینځه تلل. یو شمیر معیاري نخشې د کابل په دفتر کې جوړې شوي کومې چې د لاسرسي وړدي او په ټول افغانستان کې د سیمه ایزو دفترونو نه ترلاسه کېدای شي.

په ۱۳۸۳ کال کې دامریکې د متحدو ایالتونو د پراختیایي اداری ( USAID )او اروپایی کمیسیون (EC) په مالی لګښت د یوې ارزونې په پایله کې دا څرګنده شوه چې د افغانستان د معلوماتو د انسجام د اداري د ظرفیتونو د لوړولو ارزښت لا تر دی دمه نه دی ثابت شوی. هرڅو که، د ا د ۱۱۹ افغانو کارکونکو باور دی ، چې د نیک مارتین لخوا یې مشري کېږي، چې ددوی خدمتونه د هیواد په پرمختیا کې ډیر ارزښتناک دي. د افغانستان د معلوماتو د انسجام د اداري (AIMS) په هکله ددوی ویب پاڼه وګورئ www.aims.org.af او یا هم په کابل کې ددوی مرکزی دفتر ته مراجعه وکړئ.

# څیړنیز خبرونه

ځمکه، واقعیت ، او هینداره: سیاست او د کابل پلان جوړونه

(درسالې د مسودې سر لیک )

پیترو کلوجیرو( بیرکلي، کلفورنیا ) د کابل د پلان جوړونې دڅرنګوالې په هکله یوه رساله لیکي . د هغه څیړنه د درېو پر له پسی ماسټر پلانونو: ۱۹۲۴ (۱۳۴۳) ، ۱۹۷۰ (۱۳۴۹)، ۱۹۷۸(۱۳۵۷) د تحلیل او تجزیې نه تر د ښاري پراختیا وزارت د سیمو د ښه کېدو په لارکې د هڅو پلې کولو ، او د کابل د پلان جوړولو د څرنګوالي او دا چې څوک باید دا پلان جوړ کړي د نوموړي وزارت او د ښاروالۍ تر منځ دمخالفتونویوه لړۍ ده . او همدارازهغه دې ته هم لیوال دی چې کابل له ډیرو اړخونونه د غیر افغانانو له خوا څرنګه پلان شوې دی د بیلګې په توګه ، د بیلابیلو سفارتونو د امنیتی پولیسو په مرسته ، ګڼ شمیر خاوو او نادولتي ادارو له خوا .
پیترو غیر رسمی پراختیا د پلان جوړولو یوه بڼه ګڼي. هغه هڅه کوي چې د دولتی چاړواکو او قوانینو ، د ځمکې پلورونکو، شخصی ودانونکو او هغه کورنیو ترمنځ چې په غیر دولتي کورونو کې ژوند کوي، پر اړیکو کار وکړي.

د دی پوهې د پراخولو د یوې لارې په توګه چې څرنګه د ټولنیزو پریکړو په پایله کې ښارونه جوړیږي، پیترو همدارنګه په کابل کې د ودونو د صالونونو د مبدأ او منشأ سره لیوال دی. دا ښایي چې دولتی پلان نه وي، مګر د ټول قوم ډله ایزه پریکړه د واده لګښتونو ته د ډیرو پیسو برابرول دي چې د۱۳۸۱ کال راهیسی یې د کابل د ښار منظره بدله کړې ده.

پیترو لا تر اوسه د دې موضوع په هکله د مرکو لاره اچولو ته لیواله دی او دا کېدای شي چې د بریښنا لیک ، SMS ، او یا سکایپ له لارې تر سره شي. داخلاقی دلیلونو او د ده د پوهنتون د څیړنې د پالیسۍ د کړنلارو سره سم، پیترو د هویت او د سر چینود پټ ساتلو په هکله په کلکه ژمن دی. د Do No Harm " زیان مه رسوه " پالیسي د مرکه کېدونکو د ګمارلود څرنګوالې ساتنه هم کوي د پیترو سره کېدای شي چې په دې پته اړیکه ټینګه شي: SMS ) لاس ته راوړې)pietro@calogero.us+

۱۸۱۰-۱۴۱۵۹۹۴، سکایپ:pietrocalogero

## د کابل په هکله نوې څیړنې

ایسیر، دانیل "کابل څوک سمبالوي؟ د جګړې وروسته ښاري پلازمینه کې ښاري سیاست څیړې." لندن: د کړکیچنو ایالتونو پروګرام، د کړکیچنو ایالتونو د څیړنې مرکز، د ۱۳۸۷ کال سلواغه ۲۸ مخ

http://www.crisisstates.com/publications/wp/wp43.2.htm (PDF 1.58Mb)

د اوسني سیاست او پالیسۍ او د تاریخي معلوماتو د مقایسې پر بنسټ، دا پانه ددې څرګندویه ده چې د جګړې نه وروسته کابل کې د کورنیو او بهرنیو رول لوبونکو تر منځ اړیکې د موجودو ښاري موسساتو د پالیسیو پر جوړښت له ځایي ګټو او لومړیتوبونو د په پام کې نیولو پرته، یوه ژوره اغیزه لري. د روسیې د تیري نه وړاندې دا په کابل کې د سیاست یو بشپړ بدلون دی، کله چې د ښاري مخالفتونو اصلي خط د سیالو قومونو او قومي ګټو تر منځ وو. له ۱۳۸۰ کال نه وروسته د پالیسی جوړونې ان تر دې اندازې چې د ښار د اوسیدونکو "د مشر په هکله" یې ډیره پاملرنه وکړه.

په عادلانه توګه د ښاري پراختیا په برخه کې بې پروایي کولای شي چې بیا هغه پخوا نې د تاوتریخوالي او مخالفتونو لاملونه په ښاري سیمو کې را منځ ته کړي. سیمه ایزو پالیسیو ته او د ښاري ځمکو مارکیټ ته د خلکو محدوده لاس رسي، د ځوانانو په لوړه کچه اوزګارتیا او کمزوري ښاري خدمتونه.

حسین، جعفر عدلی. د کابل ښاروالۍ د "مافیا" په لاسونو کې ده [یوازې په دري ژبه]. کابل: د کابل ښاروالۍ د خپرونو څانګه، ۱۳۸۷ کال. ۲۱۲ مخ.

ددغې نوې کتاب لیکوال د ښاروالۍ د خپرونو په څانګه کې په کار بوخت دی. نوموړې په دغه کتاب کې د کابل او د ښاروالۍ لنډ تاریخ بیانوي او د ۱۳۸۱ کال راهیسې د کابل په ښاروالۍ کې د ناتوانۍ او نا وړه کړنو د را برخیره کولو ادعا کوي.

ښاروالۍ په ۱۲۹۸ کال کې د "کابل د بلدیې" په نوم منځ ته راغله چې وروسته تر هغې یوه وړه څانګه وه له محدودو کارکونکو او امکاناتو سره. اوس مهال دکابل ښاروالۍ ۱۵ مرکزي څانګې، ۲۲ سیمه ایزې څانګې او ۱۴۳۹ رسمي کارکونکي لري. او که مونږ سیمه ایز کارکونکي او نور کارکونکي ورسره وشمیرو نو د کارکونکو شمیر به په بشپړه توګه ۵۴۲۹ تنو ته ورسیږي.

د پخواني ماستر پلان پر بنسټ د کابل سیمه په بشپړ ډول ۳۲۸۴۰ هکتاره ځمکه د دوو میلیونو اوسیدونکو لپاره وه، دا مهال کابل ۱۰۳۰۵۱ هکتاره ځمکه تر پوښښ لاندې لري چې د اوسیدونکو شمیر یې په بشپړه توګه کابو ۵ میلیونو تنو ته رسیږي (د لیکوال د وینا پر بنسټ). دکابل ښاروالۍ د بنسټ ایښودلو راهیسې ۳۱ ښاروالانو په دې اداره کې دنده تر سره کړې. د طالبانو له را پرځیدو وروسته څلور ښاروالان راغلي دي: محمد انور جګدلک، غلام سخی، روح اله امان، او اوس انجینیر میر عبدالاحد صاحبی.

## نوې خیړنه

### د سولې او یوالي لپاره همکاري (CPAU) د شخړو ولایتي څیړنې

د سولې او یوالي لپاره همکاري (CPAU) دا ډول پنځه څیړنې په پام کې لري، دری یې په دې وروستیو کې په (بدخشان، کندز او کابل) کې په لاره اچول شوې دي په داسې حال کې چې په غزنی او وردک کې د تیاریدو په حال کې دي.

هانسن، کولی، کریستیان دنیس او ادریس زمان "د شخړې تحلیل او تجزیه: د بهارک ولسوالي د بدخشان ولایت" کابل؟: د سولې او یوالي لپاره همکاري (CPAU)، د ۱۳۸۷ د سلواغې میاشت ۲۴ مخ.

http://www.cpau.org.af /research/docs_our_publications/Bahrak20%conflict20%analysis20Feb2009.pdf(876KB)

له نوموړې څیړنې نه دا څرګندیږي چې د نشه یي توکو اقتصاد د موجودې ځمکې او اوبو د شخړو، ډله ایزې شخړې، حکومتي ضد شخړو او دعمومي سیاست د رنګ د بدلون، په ولایت کې اقتصادي او اجتماعي قوت، تر منځ اړیکې جوړې کړي. په مهمه توګه داسې نه ښکاري چې د سولې سیمه ایزې شوراګانې د لوړې کچې شخړو سره چې په هغه کې ګڼ شمیر ټولنې شاملې دي او یا سیاسي پایلې لري معامله وکړي.

دیولین، لاورینس، جکوب رینک، کریستیانس دینایس، او ادریس زمان." د شخړې تحلیل او تجزیه: د کندز ښار، کندز ولایت. " کابل ؟: د سولې او یوالي لپاره همکاري (CPAU) ۱۳۸۷ کال سلواغه ۲۴ مخ.

http://www.cpau.org.af/Research/Docs_our_publications/Kunduz%20Conflict%20Analysis%20Mar%2009% 20Final.pdf (1.63MB)

دغه رپوټ وړاندیز کوي چې د ځمکې شخړې ته د حل موندلو هڅې باید په سیمه کې د تاوتریخوالي د کمښت سبب شي.

په ولایت کې د جګړې تاریخی پس منظر، د قدرت ویش د سیمه ایزوو‌ړو قوماندانو له خوا، د حزبونو زیاتیدل، قومی توپیرونه، د اقتصاد قانوني ( او غیر قانونی) وده اکثریت وګړو لپاره د ثبات او امن د تامین په لاره کې یو لړ خنډونه را منځ ته کوي. له دې امله باید چې د ثبات د ودې لپاره د ځمکې د شخړې حل ته پاملرنه وشي.

سنو، کریس ، کریستیان دنیس ، او ادریس زمان. "د شخړې تحلیل او تجزیه: د فرزی او کلکان ولسوالۍ، کابل ولایت." کابل: د سولې او یوالې لپاره همکاري (CPAU) ۱۳۸۷ کال دکب میاشت ۲۲ مخ. http://www.cpau.org.af/Research/Docs_our_publications/Kabul%20Conflict%20Analysis%20Mar%2009%20Final.pdf (636KB)

دا د کابل په کلیوالو سیمو کې د شمالي ددرې د دوو ولسوالیو فرزی او کلکان د شخړو تحلیل او تجزیه ده، د ولسوالۍ په کچه د ځمکې او اوبو پر سر شخړې وار په وار د سولې دشورا په مرسته چې د CPAU له خوا د ۱۳۸۴ او ۱۳۸۷ کلونو تر منځ مقرره شوې څېړل شوې دي. سیمه ایزې جګړې چې په شورا کې څېړل شوې دي تل کمزورې او پرته له مرګ ژوبلې وې لکه د واده پر سر شخړې، پور او ډیر کم شمیر تربګنی.

# دافغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې نوې خپرونې

د ۱۳۸۷ کال د مرغومې میاشت د افغانستان د الف څخه تر یا مرستندویه لارښود کتاب ( اوومه ګنه). یوه بی سارې سرچینه د بی سارې شرایطو لپاره، چې موخه یې د فعالینو، جوړښتونو او په هیواد کې د مرستې او بیارغونې هڅو ته اړوند ې د حکومتي پروسو د پوهې دکچې لوړول دي. د مرستو د اصطلاحګانو یوه پراخه لغت نامه، د افغانستان د دولتي سیستم یوه کتنه، د هیواد او ښار یو لړ نخشې، لومړني مهم اسناد، او د اړیکو یوپراخ لارښود د دولتي ادارو، نا دولتی موسسو، مرستندویه ټولنو او نړیوالو کارکونکو په شمول یې وړاندې کوي . د الف څخه تر یا لارښود د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې یوه په زړه پورې خپرونه ده چې په پښتو او دری ژبو هم خپرېږي.

## حکومت داري

د ۱۳۸۸ کال د وري میاشت ( اپریل ۲۰۰۹) په افغانستان کې دوه اړخیزه حساب ورکونه: په پراختیایي مرستو کې د ګډون وده؟

دا پاڼه په پرمختیایي مرستو کې د دوه اړخیزې حساب ورکونې د پوهې او په عملی توګه په افغانستان کې د هغه څرنګوالي ته پاملرنه کوي.

سره له دې چې په مرستندو یه اړیکو کې دوه اړخیزې حساب ورکونې ته د رسیدو په لار کې ډیر خنډونه را بر څیره کېږي، خو په پای کې دوه اړخیزه حساب ورکونه به پراختیایي مرستې ډیرې اغیزمنوي. د بیلګې په توګه د پراختیایي پالیسیو لپاره د خلکو د ملاتړ زیاتیدل، دحکومت د مشروعیت زیاتیدل، د مرسته ورکونکو حساب ورکونه او د فساد پرضد هڅو سره مرسته.

د ۱۳۸۷ کال د سلواغې میاشت، د افغانستان نوی سیاسي ډلې: د ډموکراتیک کولو یوه لاره؟ د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له خوا یو نوی سند د نویو ډموکراتیکو سیاسي ډلو ونډه د افغانستان د ډموکراتیک کولو په بهیر (NDPs) کی څیړي.

لیکوال ټینګار کوي چې د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې سیاسي ګوندونه په اغیزمنه توګه محرومه کړې دي او د هغو مرستو او همکارۍ ته د بیا ارزونې اړتیا لیدل کېږي چې دوی یې د دموکراسۍ په رامنځته کولو کې کولای شي. او ادعا کوي چې اوس مهال نوې ډموکراتیکې سیاسي ډلې په اغیزمنه توګه فعالې نه دي او د راتلونکي لپاره په دې اړه چې څرنګه دوی کولای شي چې په دې بهیر کې د پاموړ رول ولوبوي، غوره وړاندیزونه په ګوته کوي.

## پالیسي جوړونه

د ۱۳۸۷ کال د سلواغې میاشت د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د سمون بهیر: اغیزمن لاملونه او ستونزې د سید محمد شاه لیکنه.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د افغانستان ملی پراختیایی ستراتیژي (ANDS) چې د یو لړ ګډو پالیسیو د دوه اړخیز عمل پایله ده څیړي. نوموړې ستراتیژي د یو شمیر نورو مهمو اسنادو او پروسو سره چې د هیواد پراختیا پورې اړوندی دي تړاو لري، لکه د زریزې پراختیایي موخې (MDG) ، د افغانستان د تړون او ګډې همغږۍ د ادارې شورا ،د افغانستان دولت، مرسته ورکونکو او تر ټولو مهم د افغانستان او سیدونکو ته وړاندیزونه کوي. د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د جوړېدو څخه وروسته دغه پاڼه د ستراتیژۍ د جوړولو د مشورو د بهیر پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې و څیړلې.

د ۱۳۸۷ کال د مرغومې میاشت د بې وزلۍ د کمولو پر لور: د ملي پراختیایي ستراتیژۍ د پلې کولو پاملرنه د بې وزلو په ګټه پالیلې د پاولا کانتور، آدام پین او نورو همکارانو لیکنه.

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په دې وروستیو کې د مباحثو یوه نوې پاڼه چې د افغانستان د وروستۍ بشپړې شوې پراختیایي ستراتیژۍ پر وړاندې یو عکس العمل دی وړاندې کړې ده. د نوموړې ستراتیژۍ د بې وزلۍ د راټیټولو موخو ته په پاملرنې، دغه پاڼه یادونه کوي چې په ډېرو مسالو کې دغه ستراتیژي پاتې راغلې ده. دغه پاڼه د پلې کولو څارنې او ارزونې بهیر ته د بې وزلو په ګټه پایلو د ښه والي پر لور د ډېرو مهمو ګامونو په توګه اشاره کوي. د دې د نیمګړتیاوو سره سره لیکونکې وړاندیز کوي دا چې د نوموړې ستراتیژۍ ښه پلې کېدل کولای شي چې په افغانستان کې د بې وزلۍ د راټیټولو پر لور د هڅو یوالې او تنظیم ته ډېر ارزښتناکه وي.

## د طبیعي سرچینو تنظیم

د ۱۳۸۷ کال د سلواغی میاشت میرآب سیستم ته یوه تاریخی کتنه: د بغلان د جنګروک کانال د مسالې څېړنه د وینسنټ توماس او مجیب احمد لیکنه.

د افغانستان دولت او نورې ادارې چې د اوبو او اوبو لګولو په سکتور کې کار کوي په هیواد کې د ډله ایزې اوبو د مدیریت په برخه کې د میرآب (د اوبو ماهر) سیستم اهمیت په ګوته کړی دی. سره له دې د پالیسۍ په اړوندو اسنادو کې ، د "دودیزو قوانینو" ، "د میرآب د سیستم" او د "یر اب فرهنګ" تعریف لا تر اوسه روښانه نه دی.

د قضیې ژوره څېړنه د اوبو د ډله ایزې اداری رسم او هغه چاپیر یال چې په کې دا کار تر سره کېږي د ودې د څرنګوالې یو تاریخی انځور برابر وي.

او دا استدلال کوي چې دمیر آب سیستم وړاندی تر دی چې دود شي فقط یو ټولنیز بنسټ یې درلود او د زور او ددی د شاو خوا پیښو پر بنسټ مینځ ته نه دی راغلی.

## جنسیت(جندر)

د ۱۳۸۷ کال د سلواغې میاشت پریکړې، غوښتنې او توپیر :په افغانستان کې د واده رسم ، د دیبرا . جی. سمیت لیکنه.

د واده دود د افغانانو په ټولنیز ژوند او کورني چاپیریال کې د جنسیت د غښتلتیاوو د پیژندنې مهمه برخه ده . دغه موضوعي پاڼه د واده اړوندو پریکړو بهیر او د واده رسمونه را سپړي. دا د کورني تاوتریخوالي او په ځانګړې توګه د واده د رسم تر مینځ اړیکې ترسیموي. لاندینې څېړنه د څلورو ولایتونو ( بامیان ،

هرات ، کابل او ننګرهار ) په ښاری او کلیوالي سیمو کې دا ځرګندوي چې د واده پریکړې د ډېرو ښځو لخوا وکړل شي او هغه ډېرو ښځو چې ...

اغیزمنه کېږي – یعني نه یوازې د نفوسو د عمومي عواملو په واسطه لکه ښوونه او روزنه او بېوزلي.

# د دغې اداري نوې څېړنې

## اسلام او ډموکراسي په افغانستان کې

په دې وروستیو کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د حکومتدارۍ څانګې د اسلام او ډموکراسۍ په هکله یوه ډله ایزه بحثي غونډه (FGO) په لاره واچوله. پدې غونډه کې د کابل پوهنتون استازو، د سیاسی ډلو مشرانو، او د ولسي جرګې غړو ګډون وکړ. د دغې غونډې موخه د سیاسي ګوندونو او ډموکراتیک کولو په هکله د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د پروژې لپاره د برخه والو د نظرونو را غونډول وو. نومړې پروژه په افغانستان کې د ډموکراتیک کولو او د سیاسی ګوندونو رول څاري او د ډلو او د ډلو د سیستم سود او زیان د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې څېړي.

اسلام او ډموکراسي د ډله ایزو خبرو اترو (FGO) اصلي موضوع وه. ټیم غوښتل چې پوه شي چه د افغان ډموکراسۍ مفهوم د برخه والو له نظره څه دی. په خاص ډول: د ډموکراسۍ نه د خلکو تعریف؛ آیا ډموکراسي د افغانستان لپاره یو مناسب سیاسي سیستم دی؛او د اسلام کوم اصول د ډموکراسۍ نه ملاتړ او یاد ډموکراسۍ سره په مخالفت کې دي.

ټول برخه وال د ډموکراسۍ د تعریف " د خلکو حکومت ، د خلکو په لاس ، د خلکو لپاره" کوم چې د ابراهام لینکن د پوهنتون د یوه برخه وال له لوري نقل شو موافق وو او د افغانستان داوسنۍ اوضاع او د افغان ډموکراسۍ په هکله یې معلومات وړاندې کړل. او په عمومي توګه د نظر یوالی دا وو چې اوس مهال او په تیر وخت کې د افغانستان د ستونزو د حل نسخې د بهر نه راواردېږي: په تیرو دیرشو کلنو کې افغانانو ته د خپلو ستونزو د حل ډېر کم چانس ورکړل شوي دی. هیڅ یوه د بهر نه را وارده شوې نسخه نه شي کولای چې د دې هیواد ستونزې حل کړي. سره له دې دنومړې غونډې برخه وال په دې باور وو چې ډموکراسي وروستنۍ او تر ټولو نه غوره راوارده شوې د حل لاره ده او ددوی په باور ددې اساسي اصول به د اسلام سره برابر وي.

ددغې موضوع په هکله خبرو اترو کې، برخه وال د لاندینو څلورو برخو په اړوند وغږېدل: ډموکراسي په عمومي توګه، د اسلام او دډموکراسۍ برابري؛ فرهنګي موضوعګانې ؛ او وخت یا حالات.

## ډموکراسي په عمومي ډول

ډموکراسي د برخه والو له خوا د یوه دولتي سیستم په توګه تعریف شوه په کوم کې چې خلک د ژوند کولو او پرمختیا فرصت لري. ددوی په اند ټاکنې، د بیان آزادي او دا چې خلک د خپل حکومت نه خوشحاله وي، او حکومت د خلکو ملاتړ د ځانه سره ولري د ډموکراسۍ اصلي ځانګړتیاوې دي. یو برخه وال د ډموکراسۍ سره د افغانانو د آشنایې په هکله و غږېد ، او بل تن په نورو هیوادونو کې د ډموکراسۍ د بریالیتوب په اړوند ځرګندونې درلودې.

زه فکر کوم چې افغانان په ربښتینې ډول پوهیږي چې ډموکراسي څه ده. د تاریخ په اوږدو کې مونږ د خپلو ستونزو په هکله د جرګو او لویو جرګو له لارې پریکړې کړې دي چې دا د ډموکراسۍ ښې بیلګې دي.

ډموکراسي د نړۍ په ټولو هیوادونو کې آزمایل شوې او هغوی د خپل هیوادونو د پرمختیا په لار کې ډېرې ښې نتیجې ترې تر

لاسه کړې دي.

په هر حال، ټول برخه وال په دې سره موافق وو چې د افغانستان دا اوسنی حالت ډموکراټیک نه دی ځکه چې حکومت د خلکو په وړاندې خپل اعتبار له لاسه ورکړی. همدا راز دوی وویل چې د لویدیځو هیوادونو ډموکراسي د افغانستان سره توپیر لري ځکه ډموکراسي یوه مفکوره ده په کوم کې چې د ټولو وګړو حق خوندي وي، مګر په افغانستان کې داسی نه ده.

یوه بله ډیره ښه بیلګه چې ورته اشاره وشوه په افغانستان کې د تیرو ټاکنو په هکله وه. برخه والو د ګڼ شمیر خلکو په هکله چې دجمهوري ریاست په ټاکنو کې یې برخه اخیستې وه و غږیدل، مګر دا یې په ډاګه کړه چې ټاکل شوې حکومت د خلکو هیلې تر سره نه کړې. دوی زیاته کړه چې خلک د حکومت د کړنو نه ناهیلې دي. د برخه والو له نظره دااوسنی وضع د ډموکراسۍ نه انارشۍ( بی قانوني ) ته ډیره ورته ده. یوه ګډونګونکې په دی خبره ټینګار وکړ چې:

فساد ، نیپوتیزم(د خپل واک نه د خپلوانو په ګټه ناوړه استفاده) ، د ځمکې مافیا ، او د عامه شتمنۍ له خطر سره مخامخ کول. د افغانستان خلک نور دی ته ډموکراسي نه شي ویلی.

برخه والو وویل چې د افغانستان خلکو د اوسني دولت د کړنلارو په هکله د رسنیو له لارې خپل غږ اوچت کړ، مګر هیڅ چا ددوی غږ وانه ورید. په ځانګړې ډول په کلیوالي سیمو کې د امن نشتوالی اود ښځینه زده کونکو او ماشومانو ښوونځیو ته نه ورتګ.

## د اسلام او ډموکراسۍ همغږي

برخه وال په دې خبره سره د نظر یوالی درلود چې سپیڅلی قرآن په اسلام کې یوائینی صلاحیت لرونکی دی، دوی وویل چې د اسلام له نظره څه چې خپل ځان ته غواړې او یا یې غوره ګڼې نو باید چې د نورو لپاره یې هم وغواړې. ددې وینا مفهوم دادی چې باید د هر یوه لپاره ښه فرصتونه په مساوی توګه موجود وي. په دې برخه کې دوو ځواب ورکونکو زیاته کړه چې:

د پاک قران په یوه آیت کې راغلي: الله(ج) ټولو انسانانو ته بی شمیره عزت او ارزښت ورکړی، نو دلته د اسلام له نظره د ډموکراسۍ لپاره یو ملاتړ شته. مونږ د اسلام او ډموکراتیکو اصولو تر مینځ کوم توپیر نه وینو، مګر همدارنګه دا د هغه خلکو خوښښت پورې هم اړه لري کوم چې د اسلام او ډموکراسۍ پلی کوونکي دي.

اسلام ډموکراسي د یو ارزښت او د ژوندانه دتګ لاری په توګه پیژني، نه د خلکو د عقیدې د بدلون د فلسفې په توګه. په اسلام کې د ټولو انسانانو لپاره درناوی او پیژندګلوي موجوده ده، په اسلام کې رنګ او توکم شرط ندی. په اسلام کې ان ۱۴۰۰ کاله وړاندی د تور او سپین توکمونو تر منځ توپیر منع وو. د پاک قرآن یو بل آیت وایي" هیڅ څوک د بل نه لوړ نه ګڼل کېږي مګر یوازې د دینداری او تقوی پر بنسټ."

ددوی د ویناوو څخه څرګنده شوه چې ځواب ورکونکی ډموکراسۍ ته د دغه شان برابری د پلي کولو د یوې لارې په سترګه ګوري چې اسلام یې سپارښت کړی.

په پای کې برخه وال په دې سره موافق وو چې د اسلام او ډموکراسۍ تر منځ د نابرابری په پرتله برابري خورا ډیره ده، او دا چې د هر یوه اساسي اصول د بل سره برابر دي.

## کلتوري موضوع ګانې

سره له دی چې برخه والو د اسلام او ډموکراټیکو اصولو تر مینځ د ورته والي یادونه وکړه همدا راز دوی د لویدیځ کلتور په اړوند ځیني هغه کلتوري او ټولنیزې موضوع ګانې چې د افغان کلتور او دودونو سره ښایې د سمون وړ نه وي، په ګوته کړل. لاندینیو ځواب ورکونکو پر دې ټکو ټینګار وکړ:

زه فکر کوم چې د اسلام او ډموکراسۍ تر منځ ګڼ شمیر ورته والی موجود دی. لکه فردي خپلواکي، د بیان خپلواکي، د مذهب او د عقیدی خپلواکي، ټاکنه، رای ورکول او ډیر نور. مګر ځینې فرهنګي او ټولینیزې موضوع ګانې دي چې د اسلام او لویدیځې لیبرال ډموکراسۍ تر منځ توپیر څرګندوي ، لکه د ښځو لپاره د فردي خپلواکۍ کچه. همداشان، په لویدیځه ډموکراسیو کې د

ورته جنس ودونه قانوني بڼه لري مګر په اسلام او افغاني کلتور کې دا راز آزادي غير اخلاقي ښکاري. سره له دې، زه دا سې فکر نه کوم چې دا ټولنيز ارزښتونه به د ډموکراسۍ مهم اصول وي.

نړيواله ټولنه بايد د افغاني فرهنګ او دود سره سم د ډموکراسۍ د پلې کولو په لاره کې د افغانانو مرسته او ملاتړ وکړي. افغانی ښځې نه غواړي چې په متروکه ووهل شي او نه هم غواړي چې د ښځو بربنډ عکسونه په ټلويزيون او يا په فلمونو کې وګوري. موږ د افغانستان د کلتور سره سمه ډموکراسي غواړو او اسلامی ډموکراسي غوره بولو.

په لنډ ډول ، برخه والو د ډموکراټيکو اساسي اصولو او د لويديځ فرهنګ د ځينو اړخونو بېلېدل چې د اسلام او اسلامي اصولو له نظره د منولو وړ نه دي، ضروري انګيرل. دا سې يې و پتيله چې په دې توګه افغاني ډموکراسي به پراختيا ومومي. ځينې موضوع ګانې وې چې په ژوره توګه ونه څېړل شوې، لکه په اسلامي او ډموکراتيکو ټولنو کې د ښځود فردي خپلواکۍ پراخوالی.

## د ډموکراسۍ لپاره د وخت او حالاتو څرنګوالی

ټول برخه وال په دې نظر وه چې دډموکراسۍ د پراختيا لپاره وخت ډير مهم ؤ؛ او د دوی په اند چې د ډموکراسۍ د ودې لپاره يو ځانګړې حالت او چاپيريال ته ضرورت شته. دوی ويل چې ډموکراسي په لويديځه نړۍ کې د سلګونو کلنو نه په زياته موده کې پراختيا وموندله، او که مونږ وغواړو چې هغه کاپی کړو او يا هڅه وکړو چې د هغې پيښې وکړو نو دا به يوه تيروتنه وي.

دوی دډموکراسۍ د پلې کولو لپاره د ځانګړو حالتونو د شتون پر ضرورت ټينګار وکړ کوم چې اوس مهال نه شته. دوی وپوښتل، "که مونږ خواړه او امنيت ونه لرو نو ډموکراسي مونږ ته څه مفهوم لري؟ " دوی د ښونې او روزنې نشتوالې ته د يوې سترې ستونزې په توګه اشاره وکړه : د برخه والو د وينا پر بنسټ په افغانستان کې د لوست کچه له"پنځو نه تر اووه په سلو کې" ده او پاتې وګړې نالوستي دي. دا يوه مساله ده چې څرنګه به ممکنه وي چې خلک د ډموکراسۍ په ارزښتونو او اصولو پوه کړی شي؟ برخه والو د يو شمير جنګ سالارانو تر مينځ د دولتي واک پر ويش وغږېدل او همدا راز دوی په دی مسالې چې په مهمو منصبونو کې ګمارل د همدې جنګ سالارانو تر اغيزې لاندې دي هم خبرې وکړې. دوی وويل چې په افغانستان کې يواځې د ډموکراسۍشعارونه تر غوږه کېږي، او خلک ربښتينې خپلواکي نه لري. خلک باور نه لري چې ډموکراسي به په افغانستان کې د نړۍ د نورو برخو په څير پلې شي، ځکه چې په افغانستان کې لا تر اوسه بی وزلي او د ټوپک زور خپور دی. د بيلګې په ډول په تيرو ټاکنو کې خلکو خپلی رايې د يوې مړۍ خوړو په بدل کې وپلورلې او ځينو ته ګواښونه کېدل چې خپلې رايې ځانګړو نوماندو ته ورکړي.

## پايلې

ددغه ډله ايزو خبرو اترو څخه ټاکلې او روښانه پايلې لاس ته راغلې . او د ګروپ ډله ايز نظر دا وو چې اوس مهال په افغانستان کې ربښتينې ډموکراسي نه شته. د ډموکراسۍ په مناسب ډول د پلې کېدو څخه وړاندې ټاکلې حالتونه ضروري دي لکه اقتصادي پراختيا ، پراخه ښوونه او روزنه او بسيا امنيت. ډموکراټيک اصول د اسلام سره برابر دي، مګر په افغانستان کې بايد چې يوه افغانی ډموکراسي چې کلتور او د ټولنې واقعيتونه په پام کې ونيسي، رامنځته شي. د لويديځ د فرهنګ ځينې اړخونه - کېداې شي چې ځينې و ختونه د ډموکراسۍ سره تړلې وي- چې دا د منلو وړ نه دي. په پای کې برخه والو وړانديز وکړ چې په پوهنتونونو ، ښونځيو ، او د مدني ټولنې په سازمانانو کې د پوهاوي د لوړولو پروګرامونه جوړ شي څو د ډموکراسۍ اصول په روښانه توګه تعريف کړي. ښوونيز او روز نيز فرصتونه بايد پياوړې شي او له ډموکراټيکو ټولنو نه بايد ملاتړ وشي. خبرې اترې په دې پای ته ورسيدلې چې که چېرې دغه لاملونه په پام کې ونيول شي، نو ممکنه به وي چې ډموکراسي په افغانسان کې ټينګه شي.

## په افغانستان کې د هراړخيز ګډون ورکشاپونه

(چې ټولنه او چارواکي پکې ګډون کوي، او په پريکړو کې د ټولنې وګړو ته ډېره ونډه ورکول کېږي) د معلوماتود

# راغونډولو لپاره د يوې کړنلارې په توګه: مثبت لاملونه او ننګونې

محمد حسن وفايي او فريد احمد بيات، د حکومتدارۍ څانګه، د افغانستان د څېړنو او ارزونې اداره

## سريزه

دغه مقاله د هراړخيز ګډون په ورکشاپونو کې ځينې هغه مثبت لاملونه او ننګونې تر پوښښ لاندې نيسي چې موږ په کابل کې د دوه اړخيزې حساب ورکونې د څېړنې په بهير کې مو تجربه کړل. سره له دې چې د ورکشاپونو په کارول خورا مثبت وو، همدا راز يو لړ ننګونې هم را څرګندې شوې.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د حکومتدارۍ ډلې په افغانستان کې ددوه اړخيزې حساب ورکونې د څېړنې لپاره د معلوماتو د راغونډولو په موخه د هراړخيز ګډون ورکشاپونه په لاره واچول. نوموړي ورکشاپونه برخه وال هڅوي څو د موضوع په هکله فکر وکړي، په بحثونو کې فعاله ونډه واخلي او يو له بله يې زده کړې. په هر ورکشاپ کې د برخه والو شمير له اتو نه تر دوولسو کسانو پورې ؤ. د ورکشاپونو موخه هغه نا دولتي ادارې وې چې په ملي کچه د افغانستان د پراختيايي پروګرامونو په برخه کې کار کوي[۱].

## مثبت اړخونه

د معلوماتو د راغونډولو د کړنلارې په توګه د ورکشاپونو څخه د استفادې په ترڅ کې درې مثبت اړخونه څرګند شول لکه: د پوهې د کچې د لوړولو يوه ښه وسيله؛ د شبکو د پراختيا يوه ښه وسيله؛ او په لنډه موده کې د بيلابيلو نظرونو د اوريدولو يوه ښه وسيله ده.

۱. د پوهې د کچې د لوړولو يوه ښه وسيله: د هر اړخيز ګډون ورکشاپونو د دغې ادارې لپاره د دوه اړخيزه حساب ورکونې په هکله د پوهې د کچې د لوړولو او د برخه والو لپاره د نظرونو او مفکورو د تبادلې يو ښه فرصت وو. موخه يې دا ده چې کله چې ګډونکونکې بيرته خپلو ادراو او ټولنو ته ستانه شي نو هغوی به هغه څه چې يې په ورکشاپ کې زده کړي عملي کړي. د ورکشاپ او سوالونو ماهيت داسی وو چې برخه وال فکر وکړي او په بحثونو کې په فعاله توګه ونډه واخلي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې يوه موخه په افغانستان کې د څېړنې د کلتور د پراختيا هڅول دي. دغه تګ لاره کولای شي چې ددې مقصد سره په کيفيتي څېړنو کې د برخه والو د ګډون له لارې مرسته وشي.

په افغانستان کې د مرستو د اغيزمنتياوو په هکله د پام وړ بحثونه شوې دي؛ او دا يوه عامه خبره ده چې خلک د مرستو د نه اغيزمنتوب نه ګيله من دي. د هراړخيز ګډون ورکشاپونه يوه ښه لار ده څو خلک په دی هکله خپل غږ پورته کړي او په ګډه د افغانستان د شرايطو سره سم کار وکړي. سر بيره پر دې دغه ورکشاپونه په حکومت کې د خلکو د ونډو او دندو په هکله او دا چې څرنګه دوی کولای شي بيلا بيل چارواکي حساب ورکونې ته را وبولي د پوهې د کچې د لوړولو يوه ښه لاره ده.

۲. په لنډه موده کې د ګڼ شمير نظرونو د اوريدلو يوه ښه وسيله ده: د هر اړخيز ګډون د ورکشاپونو يوه بله ګټه ددې فرصت برابرول دی چې د برخه والو د شمير له کبله په لنډ وخت کې يو شمير بيلابيل نظرونه واورو. د معلوماتو د راغونډولو په موخه د بيلو مرکو په کارول له دی څخه زيات وخت نيسي. همدا راز په افغانستان کې ټولنيز ډلې د بيلګې په توګه ځينې وختونه د قوم، جنسيت او عمر ډلې سره ډيرې بيلې وي او ورکشاپونه کېدای شي د بيلابيلو نظريو د يوځای کولو يوه ښه لاره وي.

۲. د شبکو د پراختيا يوه ښه وسيله: ددې تګ لارې يوه ګټه د ورکشاپونو له لارې د اړيکو د يوې شبکې پراخول دي. د هر اړخيز ګډون ورکشاپونه کولاې شي چې نا دولتي موسسې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) يو بل ته وپيژني، او ددوی تر منځ همکاري وهڅوي. دا کار په افغانستان کې چېرې چې د نا دولتي ادارو تر منځ د همغږۍ نشتوالی شته ځانګړې ارزښت لري.

---

۱ دافغانستان د څيړنې او ارزونې اداره د هغو ادارو څخه چې دنوموړو ورکشاپونو په لاره اچولو، تنظيم او کوربه توب کې يې مرسته کړې ده، ډيره خوښي څرګندوي.

## ننګونې

ددې تګ لارې د منلو په اړه په څېړنو کې څلور سترې ننګونې وې، مګر زیاته برخه یې عملي موضوعګانې وې.

۱. د یو ورکشاپ جوړول: د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې عموماً ورکشاپونه د برېښنا لیک او ټلفون له لارې تنظیم کړې دي. ډېر ځلې مسوول کس یا به ډېر بوخت وو او یا یې نه غوښتل چې ځواب ورکړي. او کله چې به هغوی ځواب ورکاوه نو دغې ادارې به ورته خپلې څېړنې او موخې په تفصیل سره بیانول. چې دا کار د ټلفون له لارې ګران کار دی. او ځینې وختونه به د ورکشاپ د دایرولو نه وړاندې دې کار به څو ورځې او ان اونۍ وخت به یې نیولو. ځینې وختونه به خلکو د "ریسرچ" کلمې ته د شک په سترګه کتل ځکه دا کلمه په دري ژبه کې د "څېړنې"" د منفی مفهوم درلودونکې ده. او ډېر ځلې به دا یو ګران کار وو چې خلک په دې قانع کړو چې څېړنې د افغانستان د راتلونکې لپاره ډېرې اړینې دي.

۲. د برخه والو ټاکل: د برخه والو ټاکنه بلهستره ستونزه وه چې څېړنه ورسره مخامخ وه. د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د ګډونکونکو د ټاکنو او رابللو په برخه کې ډېر لږصلاحیت درلود ځکه چې نورو ادارو د دې ورکشاپونو د تسهیل په برخه کې مرسته کوله. کله به کوربه ادارې هغه برخه وال چې د دوی په فکر خورا لوړ پوړي وه ټاکلې وه. که څه هم چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې هڅه کوله چې کوربه اداره وهڅوي ترڅو د مستحقو کسانو ګډه ډله را وبلي، چې دا کار تل بریالی نه ؤ.

۳. ځای او د برخه والو شمیر: د بحث چاپیریال د معلوماتو د کیفیت په معلومولو کې ډېره مهمه ونډه درلوده. د ورکشاپونو لپاره د فزیکي ځای ټاکل ډېر ځله یوه ستونزه وه. او ډېر ځلې به د ورکشاپ ځای د ګډونکونکو د هوسا ناستې لپاره په بشپړ ډول پراخ نه ؤ. ځینې وختونه به یو لوی میز د کوټې په منځنۍ برخه کې ؤ، چې دا به د تسهیلوونکي لپاره ګرانه وه چې ګډونکوونکي په سمه توګه وګوري، او په اسانه توګه د کوټې چارچاپیره وګرځي او همدارنګه د یو کس سره نیغ په نیغه خبرې وکړي. او کله کله به د ډېر شمیر ګډونکوونکو تراکم د ورکشاپ د کنټرولولو کار ډېر ګران کړ. همدا شان د برېښنا نشتوالی او یا د برېښنا کمزوري هم یوه ستونزه وه چې مونږ به نشو کولای چې څراغونه ولګوو چې وګورو مونږ څه کوو او یا د ګډونوالو څېرې ووینو.

۴. د ورکشاپونو تسهیل کله چې خلک شرمیږي او یا ډېر غږیږي: په ورکشاپونو کې یوه غټه ستونزه دا وه چې ځینو برخه والو نه غوښتل چې خبرې وکړي. ښایي ځکه چې دوی نه غوښتل د خلکو په وړاندې خپل نظرونه څرګند کړي او یا هغوی به ډېر شرمیدل. په دې حال کې به مونږ هغوی هڅول څود پراخو نظریو د څرګندولو لپاره په بحث کې ګډون وکړي. دغه ستونزه هغه وخت ډېره شوه کله چې نورګډونکوونکي ډېر غږیدل او بحثونه به یې په خپل کنټرول کې ساتل.

## پایله

څرنګه چې مونږ وښودله، چې په افغانستان کې د معلوماتو د راغونډولو د کړنلارې په توګه د ورکشاپونوپه کارولو کې ډېرمثبت لاملونه او ستونزې شته دي. په عمومی ډول، د حکومتداری ډلې دا په ځانګړې توګه د افغانستان په شرایطو کې یې د استفادې وړ وبلل. را څرګندې شوې ستونزې زیاتره عملي مسألې دي چې ډېر ځلې د پلان جوړونې سره کېدای شي پرې برلاسي شو. کله چې ورکشاپونه د نورو څېړنیزو کړنلارو سره ګډ شول، لکه نیمایي جوړښت درلودونکې مرکې، کولای شي د را غوونډو شویو معلوماتو کیفیت او څرنګوالی ښه کړي.

# نوې خپرونې او سرچینې

## ښځې او د بشر حقونه

په اسلام کې دښځو دحقونو لارښود : چې انسانی کرامت، دزده کړی او تحصیل حق، واده او په ټولنیزو چارو کی دښځو دګډون حق په کې شاملیږی : په اسلام کی دښځو دحقونو دمشورتی ګروپ دغړو دبیلابیلو مطرح شویو مقالو او بحثونو څخه غوره شوی ټولګه / دافغانستان دعدلی او قضایی چارو پروژه، په اسلام کی دښځو دحقونو خپرونه.

کابل: دافغانستان دعدلی او قضایی چارو پروژه، په اسلام کی دښځو دحقونو خپرونه، ۱۳۸۷. ۴۹مخه ؛ ۳۰ س م.

دافغانستان دعدلی اوقضایی چارو پروژه ددی واقعیت په درکولو سره چی خدای (ج) ښځې او نارینه دټولنیز ژوند له پاره پیداکړی دي او اسلامی لارښوونې داپه ډاګه کوي چې ټولنیز ژوند باید یو تربله دریښتنی فهم او درک په اساس دښځې او نارینه په پوره توافق مینې او دوستی باندی بناوي، زمونږ دهیواد اوسنی حالت زیاتره پداسی رواجونو او دودونو باندی بناده چې له اسلامی لارښوونو سره مغایرت لری، بنآ دهغو ارزیابی ګانو اوسروی ګانو په ترڅ کی چی پد بهکله ترسره شوې دي لازم وګڼل شو چی په اسلام کی دښځو دحقونو خپرونه لارې ته واچول شی، ترڅو د اسلام له نظره دښځو حقونه بیان کړي او دښځو دحقونو په برخه کی له اسلامی متونو څخه واضح اودرست تعبیرونه وړاندی کړی. په اسلام کی دښځو دحقونو برنامی د ۱۳۸۵ لمریز کال دوړی په میاشت کی په افغانستان کی دښځو دحقونو او وضعیت په هکله یوه ارزیابی ترسره کړی ده چی عمده لاسته راوړنی یی په لاندې ډول دي:

دهیواد په اکثره سیمو کی له دودونو اورواجونو سره ددین مغالطه درواجونو حاکمیت پر قوانینو او اسلامی ارزښتونو باندی. دوخت په تیریدو سره له اسلام نه دښځی او نارینه ترمنځ دتبعیض اودوسیلی په توګه کار اخیستل کیږي. اکثره هغه تاوتریخوالی چې ښځې ورسره لاس اوګریوان دي داسلام په نامه توجیه کیږي. دهیواد بی سواده وګړې چی اکثریت جوړوي، مخکې له نورو نه ددونو او رواجونو دهجوم قربانی کیږي، حتی داسی فکر کوی چی واقعآ داسلام په سپیڅلی دین کی ښځې ددوهمې طبقې په توګه په ټولنه کی ارزښت لري. همدا راز دغه ارزیابی په ډاګه کوي چې په افغانستان کی دښځو دوضعیت ښه والی داسلامی شریعت واقعی تفسیر ته اړتیا لري، چی داکار عالمان، خطیبان اوداسلامی علومو کارپوهان په ښه توګه ترسره کولای شی. داسلامی حکومونو اوموجوده دودونو او رواجونو ترمنځ تناقض موجود ده، عالمان اودینی لارښوونکی کولای شي چې ددی تناقضونو په له منځه وړلو او ښځو له حقونو نه په دفاع کی ښه رول ولوبوی.

کمالی، محمد هاشم. -- دپروفیسور ډاکټر محمد هاشم کمالی له تالیفاتو څخه ځانګړی مقالی / [محمد هاشم کمالی]. [کابل] : [دافغانستان دعدلی او قضایی چارو پروژه]، [۱۳۸۷]. --۱۸۲مخه ؛ ۲۱ س م.

په اسلام کی دښځو دحقونو ځانګه دیوزیات شمیر علماو، پوهانو، حقوق پوهانو، محصلینو او مدنی ټولنی دغړو په غوښتنه دپروفیسور محمد هاشم کمالی دمقالو په ژباړه لاس پوری کړی. پدی ټولګه کی دډاکټرکمالی څو مقالی له انګلیسی څخه غوره شوی دی پښتو اودری ته ژباړل شوی ترڅو علاقه لرونکی ورڅخه ګټه واخلی. کومی مقالی چې پدی رساله کی ځای په ځای شوې دي دډاکټرکمالی له څو کتابونو څخه چی دښځو دحقونو په اړه لیکلی دی غوره کړل شوي. په ټولګه کی دډاکټرکمالی اوه مقالی ځای په ځای شوې دي، خدای دوکړی چی ټول مینه وال داسلامی علومو څیړونکی، حقوق پوهان، محصلین، دمدنی ټولنی غړې، دپوهې اومعرفت ټول پلټونکی ورڅخه ګټه پورته کړي او پدی هیله چی په افغانی ټولنه کی دښځو دحقونو په اړه د پام وړ ښه والی راشي، پدې اړه له مقالو نه دینی استدلال وشي او دښځو دتلف شوو حقونو په اعاده کی ور څخه ګټه پورته کړي، دهمدی هدف لپاره مبارزه په کارده چی ناوړه رواجونه اودودونه دافغانی میرمنو هغه حقونه چی اسلامی تعلیمات

بې جایز ګڼي تر پښتو لاندې او یا خو د اسلامي احکامو ځای اشغال نکړي، د اسلامي نصوصو څخه خلکو ته درست تعبیر وړاندې کول د ټولو دنده ده. ددې رسالې دلازیاتې لوستنې لپاره کولای شي دافغانستان دڅېړنې او ارزونې د اداري کتابتون ته مراجعه وکړي.

شیر، بسم الله -- تعصب دانساني روابطو دله منځه تلو عامل / نظریات دبسم الله شیر. -- کابل : پخپله لیکوال، ۱۷۸۷. -- ۱۲۳مخه : رنګه شکلونه، رنګه نخشې ؛ ۲۲ س م.
**۹۵۲/۱۳۸۷ش/۹۵۸،۱۰۴۷**

دغه کتاب دانساني، اسلامي، وطني مینې ښکارندوی او له اوسنۍ ناوړه او کړکیچن حالت څخه دهیواد او خلکو دژغورنې دلارو چارو دلټون بیانوونکې دی. او دغه لاندې موضوعات پکې څېړل شوي دي: دملت ضد ونډې او دملي ضد دولتونو خصوصیت – دولت دخلکو دارادې او تمثیلونکې او ښکارندوی – دبد فرجامو او بیګانه پرستو دوستیو شرموونکې پایلې – په فاسد او ګوډاګیو حکومتونوکې دقضایي نظامونو خصوصیت – په ټولنه کې دعالمانو او پوهانو نقش او مقام – دمسلمانو ښځو دشخصیت په جوړولو کې دحجاب نقش– دبهرنیو هیوادونو وړیامرستې او دنړیوال بانک او نورو نړیوالو پور ورکونو پورونه او داسې نور.

انتخابات: دری میاشتنی مجله / دټاکنو خپلواک کمیسیون خپرنیز ارګان. -- کابل: دټاکنو خپلواک کمیسیون خپرنیز ارګان. -- ټ. : شکلونه، نخشې ؛ ۲۳ س م. -- دافغانستان دڅېړنې او ارزونې داداري سره موجودې ګڼې: ۱(۱۳۸۷).

دغه خپرونه چې دلومړي ځل لپاره دټاکنو دخپلواک کمیسیون لخوا په پښتو، دري او انګریزي ژبه باندې هر دري میاشتې وروسته په نوبتي شکل سره خپریږي دټاکنو اړوند موضوعات یې رااخیستي دي. چې لومړۍ شمیره یې لاندې سرټکي لري:

معلومات مختصر در رابطه به پروژه تجدید ثبت نام رای دهنده گان – سیستم های انتخاباتی – حق رای به حیث یکی از حقوق اساسی بشر – اسلام وانتخابات – جایگاه سیاسی زنان در اسلام – حقوق وآزادی های انتخاباتی – تدویر ورکشاپ های جنسیت وانتخابات – **ټاکنیزې اصطلاح ګانې**.

محیط زیست افغانستان / اداره ملی حفاظت محیط زیست افغانستان، پروگرام محیط زیست ملل متحد. کابل : اداره ملی حفاظت محیط زیست افغانستان، ۱۳۸۷. -- ۳۱ص. : مصور رنگه ؛ ۲۲ x ۳۰ س م.شابک ۹۷۸۸۲۷۷۰۱۰۴۸۹.

دغه خپرونه چې په دري ژبه خپره شوې دژوند دچاپیریال لنډیز او همدارنګه دژوند دچاپیریال دبدلونونو عوامل په افغانستان کې لوستونکو ته ښایي. او همدارنګه دژوند دچاپیریال په اړوند وروستي او راتلونکې هیلې په ګوته کوي. دژوند دچاپیریال په اړه دالومړۍ خپرونه ده چې دافغانستان دژوند دچاپیریال دملي اداري او دملګرو ملتونو دچاپیریال داداري په مرسته د ۱۲ مادې نهم قانون کال ۲۰۰۷ سره مطابق خپریږي. دغه خپرونه ټولو لوستونکو په خاصه توګه ددولت کارکونکو، دټولنو مشرانو په ځانګړې توګه دطبیعي زیرمو پالیسي جوړونکو، نړیوالو ادارو، په ګاونډیو هیوادونو کې پالیسي جوړونکو، او هغو خلکو ته چې دافغانستان سره مینه ولري تیاره شوې ده.دغه خپرونه په لنډ ډول سره راټوله شوې چې دچاپیریال په اړوند کره او کوټلې معلومات ورکوي. پدې خپرونه کې پدې باندې بحث شوې چې که چیرې دافغانستان طبیعي زیرمې په موثر اغیزمن ډول سره وکارول شي نو دافغانستان په اقتصاد باندې به څومره مثبتې اغیزې ولري. تاسو کولای چې دغه لنډه خپرونه دافغانستان دچاپیریال دملي اداري څخه ترلاسه کړي، او یا هم دلازیاتې مطالعې لپاره دافغانستان دڅېړنې او ارزونې داداري کتابتون ته مخه کړي.

## ادبیات او ژورنالیزم

مجموعه مقالات چهارمین جشنواره ادبیات معاصر افغانستان ۲۴ تا ۲۸ عقرب ۱۳۸۶ شهر جلال آباد = **دافغانستان داوسنیو ادبیاتو دڅلورم جشن دمقالو ټولګه / ویراستار بخش پشتو محبوب الله محبوب. -- کابل : انجمن قلم افغانستان، [۱۳۸۷]. -- ۱۲۴ص : مصور رنګه ؛ ۲۴ س م.**

داکتاب دافغانستان داوسنیو ادبیاتو دڅلورم ملی جشن داثارو ټولګه ده چی، چی دګویته انستیتیوت او دافغانستان دقلم ټولنی په ګډوهڅو چاپ شوی ده، او لاندی سرټکی په کی ځای په ځای شوې دي. ژوند لاماشینی شوی ندی / دسعدالدین شپون لیکنه – شعر سیاسی – ایدیولوژیک در افغانستان / پرتو نادری – داستاد قیام الدین خادم لنډ ژوند لیک / محمد آصف شینواری – پښتو ډرامه، پرون، نن، صبا / حبیب الله رفیع – شکل گیری شعر نو دری در افغانستان / محمد فاضل شریفی – دعلامه خادم فکری یون / محمد نبی تدبیر – دافغانستان ددریمو رسمی ژبو داوسنیو ادبیاتو په اړه څو خبری / محمد زمان کلمانی – شعر زنان مهاجر افغانستان / رضا محمدی – دپښتو معاصرو ادبیاتو څو ورستی پړاوونه / لال پاچا ازمون – دپښتو کتابونو دپښتی طرحی / محمد نبی صلاحی – دکلمی تابلو / انور وفا سمندر – دپښتو داوسنی او پخوانی شعر ترمنځ توپیرونه / اسدالله غضنفر – په معاصرو ادبیاتو کی سمبولیکو اشعارو ته لنډه کتنه / محمد ابراهیم همکار – داستاد خادم داثارو برسیرن جاج / محمد آصف صمیم – په اروپاکی دافغانانو ادبی او فرهنګی هڅی / عمر پاځون – گشتی بر اوضاع فرهنگی امروز شبرغان وانجمن فرهنگی اشراق / امان پویامک – گزارش کوتاه از وضعیت ادبی-فرهنگی هرات / عبدالواسع حیدر زاده – دافغانستان داوسنیو ادبیاتو دڅلورم فستیوال پریکړه لیک – دافغانستان داوسنیو ادبیاتو دڅلورم جشن بشپړ رپوټ / محمد نبی صلاحی.

**مرغزی، حافظ. -- احمد شاهی شاهنامه / لیکوال حافظ مرغزی ؛ پیژندنه او تعلیق رشاد ؛ متن، سمونه، سریزه او لمن لیکونه محمد معصوم هوتک. -- کندهار : دعلامه رشاد خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷ ۲۹۷مخه : انځور ؛ ۲۳ س م.**

احمد شاهی شاهنامه هغه منظوم اثر دی، چی زمونږ دهیواد دستر ټولواک غازی لوی احمد شاه بابا ویاړلې دوری ډیرې پیښې او پوځي کارنامې یې پخپل متن کی خوندی کړې دي. دا اثر په ۱۱۷۲هجری قمری کال بشپړ شوی او ناظم یې حافظ ګل محمد مرغزی داحمد شاهی عصر معاصر دی. له نن څخه نږدې نیمه پیړۍ وړاندی په ۱۳۳۹ لمریز کال د پښتو ټولنی له خوا په بریټش موزیم کی ددغې یوائینی پښتو احمد شاهی شاهنامې دمتن دترتیب او پره هغه متن باندی د تحشیې او تعلیق دکښلو له پاره ددې لاس کښلې نسخی مایکرو فلم علامه رشاد بابا ته وسپارل شو. په پښتنی حوزو کی دالومړی ګام وو، چی احمد شاهی شاهنامه به دچاپ له لاری وپښتنو ته وپیژندل کیده. علامه بابا ددغه پخوانی متن پر ټولو تحقیق طلبه ټکو او موضوعاتو باندی پوره دوه کار وکړ په (۲۱-۸-۱۳۴۱) نیټه یې دشاهنامې متن دبشپړو حاشیو او تعلیقاتو سره پښتو ټولنی ته وسپاره، په (۱۱-۳-۱۳۴۴) نیټه دپښتو ټولنی دمسلکی جرګې نظر دیوه لیک سره چی دشاهنامې تعلیقات یې په غښتوالی او پنډوالی کاږلی وو علامه بابا ته واستاوه. (دشاهنامې له لمړی مخه څخه).

دافغانستان داسلامی جمهوریت دمعارف وزارت ویب پاڼې په کار پیل وکړ تاسو کولای شی چی دغه ویب پاڼی کی دمعارف پوری اړوند مطالب په پښتو، دری او انګریزی ژبه باندی ترلاسه کړی. پدغه ویب پاڼه کی دمعارف پوری اړوند پلانونه او پالیسی، تکلاره او پروګرامونه، خپرونی، دښوونځیو طراحی، دمطالبو آرشیف، دنورو ویب پاڼو اړیکی او همدارنګه دمعارف کتابونه د پی ډی ایف په ډول ترلاسه کړی. دښوونځیو درسی کتابونه له لمړی ټولګی څخه تردولسم پوری دافغانستان په رایجو ژبو باندی موجود دی. ددغی ویب پاڼی ادرس پدی ډول دی. **http://www.moe.gov.af/po/index.htm**

## تاریخ سیاست او دولت

ټاکنی اودولتداري / دټاکنو خپلواک کمیسیون، دعامه پوهاوي ریاست. -- کابل : دټاکنو خپلواک کمیسیون، دعامه پوهاوي ریاست، ۱۳۸۷. -- ۵۸مخه ؛ ۲۱ س م.

دغه کتاب دټاکنو دخپلواک کمیسیون دعامه پوهاوي دریاست دهلو ځلو په ترځ کی چاپ او خپور شوی، دلومړي ځل لپاره په افغانستان کی ددولت، دولت په اسلام کی، ټاکنې، ډیموکراسي، په افغانستان کی دټاکنو تاریخچه او په افغانستان کی دټاکنو دسرته رسولو دبنسټ پیژندنه په لازمې شرحې او تفصیل سره بحث او څیړنه شوې ده. ددغه کتاب دلازیاتې لوستنې لپاره کولای شی چی دافغانستان دڅیړنې او ارزونې داداری کتابتون ته مراجعه وکړی.

آموزش راهکارهای پژوهش در قوانین = دقوانینو دڅیړنې د لارو چارو زده کړه : دری وپشتو / پروژه امور عدلی وقضایی افغانستان. -- کابل : پروژه امور عدلی وقضایی افغانستان، ۲۰۰۹. -- ۳۱، ۲۷ص. : مصور رنگه ؛ ۳۰ س م.

دغه رساله دلاندی محتویاتو درلودونکې ده: په لمړي څپرکی کی د قانون دتعریف، دقانون دډولونو، تقنینی اسنادو او په افغانستان کی دقانون دتاریخچې په باب لنډ معلومات وړاندې شوې دي. په دویم څپرکی کی له بیلابیلو سرچینو لکه اکترونیکی DVD ګانو له لاری قوانینو او اسنادو د لټولو دلارو چارو په باب څرګندونې شوې دي. هیله مند یو چې وړاندې شوې معلومات او طریقې دهغو محترمو استادانو لپاره چی له قوانینو سره سروکارلري بې ګټې نه وي او مونږ پدی بریالي شوې وو، چی دقوانینو په لټولو او لاسته راوړلو په اړوند مو ددوی قناعت حاصل کړی وي.

دغه رپوټ له بشری حقونو څخه ددفاع او دڅیړنې ډلې دهغې څیړنې پرله پسې برخه ده چی په کال ۱۳۸۳ کی یې ترسره کړې وه. زمونږ د۱۳۸۳ کال رپوټ "وسلې راټولې کړی" د۱۳۸۴ کال دولسمشری دټولټاکنو څخه مخکې دامنیتې وضعیت په اړه دافغانانو پر نظر څرګندولو څرخې. په ۱۳۸۳ کال کی له بشری حقونو څخه ددفاع او څیړنې ډله وروسته له هغه چې په شپږو ولایتو کی له ۲۸۴کسانو سره مرکې ترسره کړې دخلکو له خولې خبر ورکړی، چی دقانون واکمنې په اغیزمنه توګه په ټول هیواد کی نه چلیږي. دکنسرسیوم تحلیل په ترځ کی په پولیسو او پوځ باندی اعتماد په ټیټه کچه په ګوته شو. په ۱۳۷۸ کی له بشری حقونو څخه ددفاع او څیړنې ډلې څیړونکې بیا هماغه ولایتونو ته چی په ۱۳۸۳ کال کی تللې وو ولاړل، خو داځلې یې له دوو ځلو څخه زیاتې ارزونې او مرکې ترسره کړې چې په افغانستان کی دامنیتی وضعیت په اړه لا پراخ مفهوم ترلاسه شي. له بشری حقونو څخه ددفاع او څیړنې د ډلې کارکوونکې د خرابیدونکې امنیتی وضعیت او د څیړونکو دژوند او نه خوندیتوب داندیښنې له امله ونه توانیدل څو بیرته ټولو هغو کلیو ته ورشي چې په ۱۳۸۳ کال کی یې ترینه لیدنې کړې وې (دریوټ له متن څخه). ددی راپور دلازیاتې مطالعی لپاره دافغانستان دڅیړنې او ارزونې داداری کتابتون ته مراجعه وکړی.

ستانکزی، نصرالله – دحقوقی اصطلاحاتو قاموس / لیکوالان نصرالله ستانکزی ... [اوداسی نورا] ؛ دایډیټ بورډ نجیب الله جانباز ... [اوداسی نورا] ؛ ژبپوهان حیات الله باچا الهاشمی ... [اوداسی نورا]. – کابل : دکابل پوهنتون، دحقوقو او سیاسی علومو پوهنځی، ۱۳۸۷. –۲۷۰، ۲۹۸مخه ؛ ۲۵ س م. آی. اس. بی. ان ۹۷۸۹۹۳۲۲۱۰۳۸۷.




دعلومو هره څانګه ځانګړې علمی ژبه لري، چی ددغې ژبې کلیمو او اصطلاحاتو له پیژندګلوي پرته نشو کولای داړونده علومو په معناوو وپوهیږو. زمونږ په هیواد کی دحقوقو پره له دغو څانګو څخه ده چی دهغې دکلیمو او اصطلاحاتو له پیژندنې او پوهې څخه پرته، ددغې څانګې په مطالبو او موضوعګانو باندی په کره توګه پوهیدل یوناشونی کاردی. داستونزه یواځې په غیرمسلکی کسانو پوری اړه نلري،

بلکې په ډېرو مواردو کې دمسلک خاوندان هم دحقوقي مفاهیمو د پیچلتیا له امله له ستونزو سره مخامخ دي. دټولو دلایلو ترڅنګ هغه څه چې په لوړه کچه دا پیچلتیا نوره هم ډیروي، په حقیقت کې زمونږ د هیواد دحقوقي متنونو په برخه کې دبهرنیو ژبو او په ځانګړې توګه دعربي ژبې دکلمو او اصطلاحاتو راننوتل دي. دعربي ژبې دغه نفوذ او ولکه زمونږ په حقوقي او قانوني متنونو کې له دوو لاملونو څخه منځته راځي:

لومړی داچې افغانستان یو اسلامي هیواد دی، اوددې هیواد دحقوقي سیستم په ډیرو مواردو کې د اسلامي حقوقي نظام څخه اغیزمن دی، او داچې د اسلام دحقوقو متنونه او کتابونه په عربي ژبه لیکل شوې دي، نو ددې متنونو څخه دافغانستان په قوانینو کې دکار اخیستلو په مهال، زمونږ دهیواد په رایجو ژبو کې دځینو اصطلاحاتو دنشتوالي له امله، یاد شوې اصطلاحات په هماغه خپله بڼه زمونږ په قوانینو او حقوقي متنونو کې راننوتلې دي.

دویم، کله چې افغانستان په مدونه توګه دقوانینو دتدوین دسیستم لومړی مرحلې ته ورننوت، ددې ترڅنګ چې هغه مهال دلویې وچې په کچه دحقوقي سیستم دپیروو هیوادونو دحقوقي نظام بیلګه کولو ته لیوالتیا شتون درلود، دې ته ډیره پاملرنه کیدله ترڅو دابیلګه ترډیره حده اسلامي هیوادونه وي. ددی اصل پربنسټ زیار وایستل شو چې د اسلامي هیوادونو او په ځانګړې توګه دمصر هیواد حقوقي او قانوني متنونه معیار وټاکل شي. څرنګه چې دمصر ژبه عربي وه نو یوځل بیا عربي مفاهیمو او اصطلاحاتو زمونږ دهیواد حقوقي او قانوني ترمینولوژۍ ته لاره ومونده.

دحقوقي اصطلاحاتو د اقاموس د ۴۰۰۰ حقوقي اصطلاحاتو درلودونکی دی چې دټولو حقوقي څانګو اصطلاحاتو ته پکې ځای ورکول شوی دی. خوداهم باید وویل شي چې دافغانستان په حقوقي او قانوني متونوکې ټولو شته اصطلاحاتو ته په دې قاموس کې ځای ندی ورکړل شوی بلکې د امکان ترحده پوری هڅه شوې ده چې لږ ترلږه یو شمیر دپام وړ اصطلاحات پکې موجود وي. دقاموس له مقدمې څخه.

تاسو کولای شی چی ددې قاموس لپاره لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړی. http://www.afghanistantranslation./com

افغانستان په ۲۰۰۸ کال کې : دافغانستان دوګړو سروی / ایشیا فونډیشن. -- کابل : ایشیا فونډیشن، ۲۰۰۸. ۲۰۲مخه ؛ ۲۳ س م.

افغانستان په تیرو دولس میاشتو کې-له هغې مودی راهیسی چی ایشیا فونډیشن خپله وروستی سروی د افغانانو دعمومي نظر پوښتنی په اړوند د ۱۳۸۲ هجری لمریزکال په اوړې کې ترسره کړه – د ډیرو سختو حالاتو څخه تیر شوی دی، چی پدې ترځ کې د افغانستان چارې ډیرې سستې روانې وې مګر یو لړ ضروری او بنستیزې لاسته راوړنې او خدمتونه یې هم درلودل. لکه په هیوادکې دبیا ودانولو په چاروکې ځینې بریالیتوبونه ترلاسه شوې دي. دتیرو جګړو له امله په څرګند ډول دډېر ملکی او نظامی مرګ ژوبلې اودخوراکي توکو کموالی په ډیرو سیمو کې لا ګواښوونکې برید ته رسیدلی چی له امله یې په ملیونونو افغانان په دغه روان ژمې کې له لوږی سره لاس او ګریوان دي او همدارنګه دبیو لوړوالی اووزګاري مخ په لوړیدو ده. همدا مهال افغانستان او نړیوا له ټولنه د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ هجري لمریزکلونو دولسمشري او داسې نورو ټولټاکنو سره مخامخ دی. پدغه حال کې د ایشیا فونډیشن اداري خپله څلورمه کلنی اوملی سروی د افغانانو دعمومی نظر پوښتنې په اړه د ۱۳۸۷ هجري لمریز کال په اوړې کې ترسره کړه. ددغې او د اسی نورو سروی ګانو چی له ۱۳۸۳ هجري لمریزکال را په دې خوا د ۱۳۸۵او ۱۳۸۶هجری لمریزکلونو په ترځ کې ترسره شوې ده، موخه یې دمعاصری حکومتداری اود پرمختګ اړوندو موضوعاتو په هکله دیو زیات شمیر افغانانو نظر پوښتنه وه. ددی سروی دلازیاتی مطالعی لپاره کولای شی چی د افغانستان دڅیړنی او ارزونی د اداری کتابتون ته مراجعه وکړی.

دمشرانو جرګې ددریم تقنیني کاري کال دکړنو لنډ رپوټ (د۱۳۸۲ سلواغه – د۱۳۸۷ لیندی) / داطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست. -- کابل: دمشرانو جرګه، داطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، ۱۳۸۷. -- ۱۲۷مخه: شکلونه، انځورونه ؛ ۲۸ س م.

پدې رساله کې دملي شورا دیوی جرګې (مشرانو جرګې) دتیر یوه کال دکړنو لنډ رپوټ دکرونولوژی (نیټه په نیټه) په بڼه درنو لوستونکو ته وړاندې کوي، او دڅلورم کاري تقنیني کال ددوام لپاره دتجربو په لاسته راوړلو او دښو چارو په ترسره کولو سره دمنان خدای له درباره دلازیاتو بریالي توبونو هیله کوو. دافغانستان پارلمان په ځینو لاسته راوړنو باندې دمنګلو لګولو سره ددې وړتیا موندلې ده، ترڅو دپارلماني چارو دڅیړونکو او کارپوهانو، متنفذینو، طرحې اورغنده علمي نظرونه، دهیواد د روانو شرایطو، وضعې او احوال سره (ترسره شوې او نه ترسره شوې کارونه) په یوخیل والي کې وڅیړي، اودغوښتنې سره سم هغو نویو وړاندیزونوته چې راتلونکې پرې ښه اولاښه کیږي، وړاندې کړي، په علمي نظر کتلې دي اوتود هرکلي یې ورته کړی دی او پدې توګه به ترې په خپلو راتلونکو کاري پړاونو کې ترخپلې کچې لویه ګټه واخلي. (له سریزې څخه).

څیړنه: مجله علمي وتحقیقي پوهنتون کابل / کابل پوهنتون. -- کابل: کابل پوهنتون، دڅیړنو علمي مرکز، دڅیړنه نړیوالی مجلې دفتر. -- ټ.: شکلونه ؛ ۲۴ س م. -- دافغانستان دڅیړنې او ارزونې دادارې سره موجودې ګڼې: دوهم دور ۱ شمیره (ژمی ۲۳۸۷).

که څه هم په افغانستان کې درسمي او عصري زده کړو مخینه له یوې پیړۍ اوړی، خودلوړو زده کړو دلومړني مرکز په توګه دکابل پوهنتون ونډه د هیریدونده. دلوړو زده کړو دمرکز دجوړیدو سره سم په کوردننه او سیمه کې دپام وړ ځای ترلاسه کړ. دشوروی تیری او کورنیو جګړو له امله دهیواد دټولو بنسټونو پشان دکابل پوهنتون هم له ستونزو سره مخ شو. له کدرونو واخله ترلابراتورونو، کتابونو او ... هرڅه دجګړې خوراک شول. د (بن) ترتړون وروسته کابل پوهنتون ته یوځل بیا پاملرنه واوښته. دپوهنتون دارونده ادارو او پوهنځیو اونورو مرکزونو په څنګ کې دعلمي څیړنو مرکزته هم، چې لسګونه کاله یې دعلم په هره برخه کې دپام وړ کار کړی، پاملرنه وشوه. دعلمي څیړنو مرکز چې له څولسیزو راهیسې دکابل پوهنتون په چوکاټ کې کار کوی، پدې وروستیو کې په ټوله مانا له کاره لویدلی وو. مادی او معنوی امکانات یې نه لرل او اوس هم لکه څنګه چې ښایي هغسې نلری، خودعلمي څیړنو دمرکز دمشر او کارکوونکو په هڅو اود کابل پوهنتون درهبرۍ دځانګړې پاملرنې له امله ددوو کلونو په بهیر کې پدې مرکز کې دپام وړ کارونه ترسره شول. دڅیړنې شورا جوړه شوه، پراساسنامه کار وشو، دڅوپروژو کارونه په برۍ سره پای ته ورسیدل او چاپیریال کمیټه بیا فعاله شوه. پردې سربیره دڅیړنې دنړیوالې مجلې ټول کارونه بشپړ شول چې دمجلې په برخه کې دکابل پوهنتون دپالیسی او بشری پراختیا او پالیسی ملي مرکز دپام وړ مرستې کړې دی. په ټولنیزه توګه (څیړنه) مجله لاندې ټکیو ته په پام خپریږي: (الف) له ملي او نړیوالو معیارونو سره سم دڅیړنې دکلتور دودول (ب) دکابل پوهنتون دڅیړنیزو مرکزونو، دپالیسی او بشری پراختیا او دپالیسی ملي مرکزونو دڅیړنو خپرول، (ج) دافغانستان، سیمې او نړی په اړه دکورنیو او بهرنیو پوهانو دلیکونو او څیړنو خپرول، (د) دلیکنو له خپریدو سره، سره دلیکوال دمادی او معنوی امتیازونو خوندیتوب، (ه )دکابل پوهنتون دڅیړنیزو مرکزونو او په کور دننه او بهر له ټولو څیړنیزو مرکزونو سره داړیکو ټینګول (و ) په کابل پوهنتون اود هیواد په نورو پوهنتونونو او څیړنیزو مرکزونو کې دڅیړنیزو لارو چارو پیاوړی کول.

په څیړنه مجله کې دخپریدونکو لیکنو لپاره ځینی علمي شرایط هم په پام کې نیول شوی چې له بازاری او یا عامو مجلو سره یې توپیر وشي. پدې مجله کې خپریدونکې لیکنې باید لاندې ځانګړتیاوې ولري: لیکنه چې په هره برخه کې وی داسلام له سپیڅلی دین سره په ټکر کې نه وی، ملي ارزښتونه

اونړیوالو معیارونو ته به پکې پام شوی وي.

لیک ښنې به پکې په پام کې نیول شوې وي او د منځپانګې له پلوه به پرعلمي او څېړنیزو معیارونو ولاړه وي. دعلومو دیوې ځانګړې څانګې سره به تړاو لري او داړوند علم په اړه به په ملي او نړیواله کچه نوې نظریې او وړاندیزونه لري. علمي معیارونه به پکې په پام کې نیول شوي وي. لیکنه به په کمپیوټري بڼه او تیروتنو نه پاکه وي. تکراري به نه وي، دکتنپلاوی تر کتنو وروسته به لاربښود استاد ته استول کیږي، دلاربښود استاد ترمنښتي وروسته په څېړنه کې خپریږي. ځانګړي علمي اصطلاحات باید دلیکنې په پای کې له اړینو توضیحاتو سره راوړل شي، څېړنه په دریو ژبو پښتو، دري او انګلیسي لیکنې خپروي، له پښتو او دري لیکنو سره باید دلیکنې لنډیز په انګلیسي ژبه وي. څېړنه مجله چې دافغانستان درسنیو دقانون سره سم خپرونې کوي، یوازې او یوازې علمي او څېړنیزه مجله ده، ملي ارزښتونه او دیني مقدساتو ته ژمنه ده. دداسې لیکنو له خپراوي چې په ملي کچه درز رامنځته کوي او په نړیواله کچه دافغانستان اعتبار راکموي معذرت غواړي. (د څېړنه علمي مجلې داداري له وینا څخه).

## اسلامي څېړنې

دافغانستان دعلومو داکاډمي وروستي نوبتي خپرونې: کابل: ژبنۍ او ادبي میاشتنۍ خپرونه / دافغانستان دعلومو اکاډمي. – کابل: دافغانستان دعلومو اکاډمي.

**۴-۲گڼه**: پدغه ګڼه کې لاندې موضوعات شتوالی لري: دخان عبدالغفارخان دسیمینار په مناسبت دافغانستان داسلامي جمهوریت دعلومو اکاډمي درییس دپرانستونکې وینا متن – دخپلواکۍ ۸۹یمه کلیزه – کاظم خان شیدا (نقشبندي مشرب) / دعبدالله بختاني خدمتګار لیکنه – درحمان بابا روحي سفرونه / دحبیب الله رفیع لیکنه – پښتو ژبه باختري ژبه ده / دشررلیکنه – آریا / دخلیل الله ارمړ لیکنه – ادبي خاطرې / دمحی الدین هاشمي لیکنه – نړیوالې ژبې / دمولا جان تنیوال ژباړه او لنډیز – په پښتو کلاسیک ادب کې انساني لوړ مفاهیم / دمحمد عارف غروال لیکنه – دملنګ جان په ملي او هیوادنۍ شعر کې دوطن دمینې او خپلواکۍ پلوشې / علي محمد منګل – خوشحال خان یو افغان ملي شاعر: په ناروېژۍ ژبه دګیورګ مورګن ستیانه لیکنه / ژباړه عظم الدین علیمي – جهان بیني مولانا محدومقلي فراغي / عبدالکریم جلال فرهیخته – داستاد امیرحمزه شینواري دشعري سبک څو عمده ځانګې / عبدالشکور قیومي.

آریانا: علمي، څېړنیزه دري میاشتنۍ خپرونه / دافغانستان دعلومو اکاډمي. – کابل: دافغانستان دعلومو اکاډمي.

**۳-۴گڼې دغه موضوعات رااخیستي دي**: پیام اکادمی علوم افغانستان به مناسبت نخستین اجلاس کانگرس بین المللی زنان افغان در هالند (۱۱ مارچ ۲۰۰۸) – بی ثباتی یا متزلزل بودن تدریس / مترجم محمد فاضل فاضل – تاریخ چیست ومورخ باید چه کند؟ / سید امین مجاهد – نگاهی به خصوصیات جنبش روشانی / محمد یاسین رسول – رابطه متقابل نظام اقتصادی وسیاسی / عبدالصمد عزیزی – روابط تجارتی موجود افغانستان با کشور های همسایه / شیلا پناه – هرات از دیدگاه مورخان وجغرافیه نویسان / محمد افضل افضلی – نگرشی بر اوضاع سیاسی دوره سلطنت امیر شیرعلی خان / محمد شفیع غنی پژوهش – خشونت واثرات آن در خانواده ها / عبدالجبار عابد – مبارزات آزادیخواهانه غازی عبدالله خان اچکزی / راحله میرزایی – بررسی برخی از عنعنات متناقض حقوق بشری زنان در افغانستان / محمد موسی رحیمی – انکشاف بر سیر تاریخی وانکشاف زبان دری در عهد سامانی / اسدالله پرفیض – مصئونیت ها ومزایای سازمانهای بین المللی / عبدالقادر سروری.

خراسان : مجله مطالعات زبان وادبیات / اکادمی علوم افغانستان. – کابل : اکادمی علوم افغانستان.

شماره ۸۰ سال ۱۳۸۷ این موضوعات رادربر میگیرد: بررسی از آرمانهای عالی انسانی در اشعار بعضی از گوینده گان قرن ۷–۸ هـ زبان دری / عبدالقیوم قویم – برخی از ویژگی های دستور شعر بیدل / محمد حسین یمین – دمی با غزل های دری "فانی" / محمد آصف گلزاد – پیرامون منبع سوژهء منظومهء "وامق وعذرا" ی عنصری / کالادزی ای. او ؛

مترجم عبدالکریم جلال فرهیخته – اسدی از پیرامون موفق فردوسی در حماسه سرایی / سید اکرام الدین حصاریان – ویژه گی های واژه سازی در شعر معاصر دری / شریف الله شریف – اثر پذیری"سیدا" کروخی از شعرای متقدم / محمد سرور پاکفر – نظریه معنای زبان / شاه محمد مصلح – نظام نوشتاری زبان / محمد فاضل شریفی.

**محمود، فضل الرحیم -- دامام سرخسی په مبسوط کی فقهی قواعد / لیکوال فضل الرحیم محمود ؛ لاربنود استاد شیرعلی ظریفی. -- کابل : دافغانستان دعلومو اکاډمی، داسلامی علومو دڅېړنو څانګه، ۱۳۸۷. -- ۱۲۵مخه ؛ ۲۳ س م.**

**"دامام سرخسی په مبسوط کی فقهی قواعد دهغی علمی – تحقیقی رسالی نوم دی چی دفقه او قانون دمرکز غړی فضل الرحیم محمود زیار دڅوکلونو په جریان کی لیکل شوی ده، څېړونکی دامام سرخسی کتاب ټکی په ټکی مطالعه کړی ده اوفقهی قواعدیې ور څخه استخراج کړې دي. داسلامی علومو معاونیت چی دری ریاستونه (فقه او قانون- تفسیر اوحدیث- عقیده اوثقافت) لری دخپلو علمی پروژو دچاپ په لړکی دغه رساله ددی وړبولی چی دامام ابو حنیفه رحمت الله علیه دسیمینار دتدویر پرمهال یې ګرانو هیوادوالو ته ډالی کړی، دغه رساله دحنفی مذهب له اصلی منبع مبسوط څخه ښه نمایندګی کوی، دغه قواعد په حقیقت کی دحنفی مذهب اصولو پر بنسټ ولاړ قواعد دی. افغانستان چی اکثریت وګړی یې حنفی مذهبه دی ددی کتاب لوستلو ته په ملی ژبه زیاته اړتیا لری. دعلومو اکاډمی داسلامی علومو معاونیت پدی ویاړی چی دغه رساله دسیمینار د تدویر په مهال چاپ ته سپاری اودهیوادوالو لپاره دخدمت مصدر ګرزی" داسلامی علومو دڅانګی یادښت (دمرستیال میر محمد شریف پاکرای لیکنه).**

د افغانستان څېړنیزه خبر پاڼه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری دری میاشتنۍ خپرونه ده. ددغه خبرپاڼې موخه داده چې لوستونکي د نوو څېړنو څخه چې په افغانستان کې په لاره اچول کیږي خبر کړي او همدارنګه د څېړنې موندنې او پایلو د رپوټونو په ویشلو او خپرولو کې مرسته وکړي. ځینی د یادو شویو منابعو څخه د انټرنیټ په پاڼه د لاسرسنی وړ دي؛ زیاتره کتابونه او نوری خپرونې د دغه اداری په کتابتون کې موجودی دي، نوموړی کتابتون ددغه اداری په دفتر (د ګل فروشۍ کوڅه، د دوهمی کوڅې ګوټ) کې موقعیت لري او د یکشنبه څخه تر پنجشنبه پوری د سهار د ۹ بجو څخه تر ۱۲:۳۰ او د ماسپښین د ۱ بجې څخه تر د مازدیګر ۴ بجو پوری د څېړونکو پرمخ پرانستی دی. دغه خبر پاڼه د رویس وایلز او ډاکټر جمیل الکوزي لخوا تصنیف، د ماري شیرزادلخوا په پښتو ژبه ژباړه او دیزاین شوې او د امان الله اتل لخوا تصحیح شوې. که چیری تاسو د کتابونو یا نورو خپرونو یا سرچینو په اړه وړاندیزونه لرئ چې باید په خبر پاڼه کې اضافه شي، نو هیله کیږي چې دغه بریښنا پتی ته بریښنالیک را واستوئ: **newsletter@areu.org.af**.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (**AREU**) یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده چې په کابل کې موقعیت لري. ددغه اداری ماموریت د لوړ کیفیت څېړنو تنظیمول دي تر څو پدیوسیله پالیسي او کړنلار متأثره او آګاه کړي. همدارنګه، دغه اداره په افغانستان کې د تحلیلي ظرفیت د پیاوړي کولو پواسطه د څېړنې او زده کړې کلتور ته په فعاله توګه وده ورکوي او دغه راز په سیمه کې د موجودو ستونزو په هکله فکرونو او مباحثو ته لار هواروي. د دغه د اداری بنسټیز لید دادی چې کار او فعالیت یې باید د افغانانو ژوند کې ښه والی رامنځته کړي. دغه اداره په ۲۰۰۲ کال کې د مرستندویه ټولنې لخوا چې په افغانستان کې کار کوی تأسیس شوه. د دغه اداری مدیره هیأت د بسپنه ورکوونکو، د ملګرو ملتونو او نورو څواړخیزه سازمانونو او نا حکومتي سازمانونو له استازو څخه عبارت دی. دغه اداری په نږدی تیر وخت کې د اروپا کمیسیون (**EC**)، د دنمارک (**DANIDA**)، برتانیې (**DFID**)، سوتزرلند(**SDC**)، نوروی او سویدن (**SIDA**) هیوادونو، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری(**UNHCR**)، د افغانستان حکومت د کرنی اوبو او مالداری له وزارت، نړیوال بانک، د اغاخان بنیاد، او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د وجهې صندوق څخه څخه مالي مرستې تر لاسه کړی دی. دلازیاتو معلوماتو او ددغه د اداری خپرونو پي ډي ایف کاپیانو لپاره ویب پاڼه: **www.areu.org.af**